ليکه، په هغه ذات قسم چې زما روح يې په لاس کې دی، چې له حق پرته ترې بل څه نه راوځي

له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي: ما به هر هغه څه ليکل چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه به مې اوريدل، او غوښتل مې چې حفظ يې کړم، خو قريشو لدې کار څخه منع کړم او ويې ويل: آيا ته هر هغه څه ليکې چې ته يې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورې، پداسې حال کې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم انسان دی، کله د غصې او خوښۍ په حالت کې خبرې کوي؟ نو ما ليکنه خپلې ګوتې سره خپلې‌بنده کړه او پدې اړه مې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يادونه وکړه، نو هغه په خولې ته اشاره وکړه او ويې ويل: «اكْتُبْ، فوالذي نفسي بيدِه، ما يَخرُجُ منه إلا حقٌّ». «ليکه، په هغه ذات قسم چې زما روح يې په لاس کې دی، چې له حق پرته ترې بل څه نه راوځي».

[صحيح دی] [ابو داود روايت کړی دی]

عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما وايي: ما به هر هغه څه ليکل چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مې اوريدل، تر څو يې له يادو زده کړم، خو د قريشو ځينو سړيو زه منع کړم. او ويې ويل چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم انسان دی؛ د خوښۍ او غصې په حالت کې خبرې کوي او کله خطا کيږي هم، نو ما ليکل بند کړل. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم مې د دوی له وينا څخه خبر کړ، هغه خپلې خولې ته په خپلې ګوتې سره اشاره لاس کې دی، چې په هر حالت کې ترې له حق‌وکړه او ويې ويل چې: ليکه: په هغه ذات قسم چې زما روح د هغه په پرته بل څه نه راوځي؛ د خوښۍ او غصې دواړو حالتونو کې. په داسې حال کې چې الله تعالى د خپل پيغمبر صلى الله عليه وسلم په اړه فرمايلي دي: ﴿وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلۡهَوَىٰٓ * إِنۡ هُوَ إِلَّا وَحۡيٞ يُوحَىٰ﴾ [النجم ٣-٤]. (او دی له خپل خواهش نه خبرې نه کوي. ندی دا (قرآن) مګر وحې چې (ده ته) وحې کيږي).

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65077